بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# د داخلي ناکراریو زیاتوالی او د بهته خور ترهګر نور ولي محسود د نویو ډلو د تحریک طالبان پاکستان سره د یوځای کیدو د دروغو ادعاوی

ټي ټي پي د دروغو او منافقت د رویې په ساتلو سره په ترهګر تنظیم کې د ځینو نوو ډلو د شاملېدو په اړه غلط اعلانونه کوي، په داسې حال کې چې واقعیتونه په لاندې ډول دي:

- د جولای په 16 مه، په کوهاټ کې د سیف العمر ډلې له ټي ټي پي سره د یوځای کېدو اعلان وشو؛ سیف عمر د بهتې اخیستو او غلا په قضیو کې مطلوب مجرم دی۔
- د جولای په 22، کرم نه د بدر خالد ډلې ټی ټی پی ته د یو ځای کیدو اعلان وکړ، چې څه موده د حافظ ګل بهادر ډلې سره وو او وس د ټي ټي پي سره یوځای شوی دی۔
- د جولای په 23 له پېښور څخه د قاري سیف الله په نوم له یوې ډلې سره یو ځای کېدل اعلان شول؛ په داسې حال کې چې داسې څوک یا ډله شتون نلري۔

د ټی ټی پی داخلي ګډوډي په داسې حال کې مخ په زیاتیدو ده چې د جعلي نومونو بیانونه، هغه اشخاص چې دمخکې نه د ترهګریز سازمان برخه دي او جنایي ډلې د ټی ټی پی سره یوځای کیدل د بدنامۍ پټولو یوه ناکامه هڅه ده۔